# د راپور لنډيز

په ۱۳۹۵ کال کې د افغانستان په هکله له بروکسل کنفرانس څخه مخکې د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر د افغانستان عایداتي وزارتونو ته لارښوونه وکړه، چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلانونه جوړ کړي، تر څو د دوی په کړنو او فعالیتونو کې له شفافیت څخه ډاډ تر لاسه شي. په ورته وخت کې د متقابلې حسابورکونې د کاري چوکاټ له لارې د په ځان بسیانې سند(*SMAF*) د افغانستان جمهوري اسلامي دولت پنځه عایداتي وزارتونه مکلفوي، چې د اداري فساد پر وړاندې خپل پلانونه وړاندې او د پلي کولو د پرمختګ راپور یې عامو خلکو ته وړاندی کړي. وروسته د اقتصاد وزارت په ګډون پالیسي جوړونکو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، چې دا لړۍ تعقیب کړي.
د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه د اداري فساد پر وړاندې د ټولو وزارتونو  پلانونه ارزوي او اوس د افغانستان د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د پرمختګ څارنيز راپور خپروي.
هغه پلان چې د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې ته ښودل شوی، د څلورو لومړیتوبونه تر عنوان لاندې ۲۴ فعالیتونه لري. د اقتصاد وزارت له فساد سره د مبارزې پلان او په دې برخه کې د شوو پرمختګونو د ارزونې لپاره د څارنې او ارزونې کمیټې ۲۴ مرکې او ګروپي بحثونه د هغو د اړوندو اسنادو  له سپړنې او تحلیل سره یو ځای تر سره کړي.